# د یوحنا رسول دویم خط

## پېژندګلو

د یوحنا دویم خط هم لکه د یوحنا د اول خط په شان د هغه دروغژنو تعلیماتو خلاف لیکلے شوے دے او د هغوئ په حقله يې خبردارے ورکړے دے. په دې خط کښې په مسیحی مېلمستیا تاکید شوے دے. دروغژنو اُستاذانو به په مسیحیانو رحم کولو چې په جماعت کښې خپل ناجائزه اثر او رسوخ پېدا کړی. د یوحنا په دویم خط کښې د داسې خلقو په حقله لیکلے شوی دی او دا خبردارے ورکړے شوے دے چې خپل کورونه د ایمان تباه کوونکو او دې دروغژنو ته مۀ کولاووئ. د اول یوحنا خط بنیادی تاکید د حقیقت، مینې، او تابعدارئ په حقله دے او ورسره په دې خبره هم زور راوړے شوے دے چې مسیحی مېلمستیا څۀ ته وائی. پولوس رسول په دې خبره تاکید کوی چې ایمانداران دې په ایمان کښې یو وی او چې په خپله عقیده کښې به په ژوند کښې یووالے لری او د هم دې په بنیاد به یو مضبوط جماعت تیار کړی. د حفظ کولو دپاره ۱:۶ آیت ”او دا مینه ده چې مونږ د هغۀ د حُکمونو په مطابق ژوند وکړُو. د هغۀ حُکم دا دے کوم چې تاسو د اول نه اورېدلے دے، نو چې تاسو د هغې په نقش قدم تلل وکړئ.“



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## دُعا او سلام

۱ دا خط د مشر د طرفه هغه منتخب شوې ښځې او د هغې بچو ته دے، چا
سره چې زما په رښتيا مينه ده، يواځې زهٔ نه، بلکې د هغه ټولو خوک چې د حق نه
خبر دی، ۲ د هغه حق د خاطره چې په مونږ کښې اوسيږی او تل تر تله به
مونږ سره وی. ۳ د خُدائ پلار او د هغهٔ د زوئ عيسیٰ مسيح فضل، رحم او
سلامتی به په حقيقت او مينې سره په مونږ کښې وی.

## په حقيقت او مينه کښې اوسيدل

۴ زهٔ په دې ډېر خوشحاله شوم چې مې واورېدل چې ستاسو څهٔ بچی د حق په
لار روان دی لکه څنګه چې د پلار نه مونږ ته حُکم شوے دے. ۵ اے ګرانې
محترمې، زهٔ اوس ستا نه تپوس کوم داسې نه چې زهٔ درته يو نوے حُکم ليکم،
بلکې کوم چې مونږ ته د شروع نه راکړے شوے دے چې مونږ دې د يو بل سره
مينه کوُو. ۶ او دا مينه ده چې مونږ د هغهٔ د حُکمونو په مطابق ژوند وکړُو. د
هغهٔ حُکم دا دے کوم چې تاسو د اول نه اورېدلے دے، نو چې تاسو د هغې په
نقش قدم تلل وکړئ. ۷ ځکه چې ډېر دوکه بازان دُنيا کښې خوارهٔ شوی دی
خوک چې د عيسیٰ مسيح په جسم کښې راتلل نهٔ منی، داسې کسان لوئ ټګماران
او خردجالان دی. ۸ خبردار اوسئ چې زمونږ هغه خواری ضائع لاړه نهٔ شی
کومه چې مونږ په تاسو کړې ده بلکې دا چې تاسو د هغې پوره اجر حاصل کړئ.
۹ خوک هم چې بې‌لارې شی او د مسيح د تعليم په مطابق ژوند نهٔ تېروی،
خُدائ پاک د هغهٔ سره نشته. خو هر خوک چې د مسيح د تعليم په مطابق ژوند
تېروی نو د هغهٔ سره پلار او زوئ دواړه شته. ۱۰ کهٔ خوک درته راشی او دا
تعليم درنهٔ کړی نو هغه خپل کور ته مهٔ پرېږدئ او مهٔ ورته هرکلے وايئ، ۱۱
ځکه چې هر خوک چې هغهٔ ته هرکلے وائی، د هغهٔ په بدو کارونو کښې شريک
دے.



Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

## آخری سلام

١٢ اګر کهٔ ډیرې خبرې داسې دی چې زهٔ یې تاسو ته لیکل غواړم خو د هغې زهٔ
په لیک کښې راوستل نهٔ غواړم، خو د دې په ځائ زهٔ دا اُمید کوم چې در به شم
او درسره به په مخامخ خبرې وکړم نو چې زمونږ خوشحالی پوره شی. ١٣ ستا
هغه خور چې خُدائ پاک غوره کړې ده د هغې بچی تا ته سلام کوی.



Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.